## <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

# د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه یو نړیوال کمپاین پیلوي: «بیجینګ + ۲۵: ایا د جنډر له مساواتو پرده لرې شوې؟»

۲۰۲۰م کال، د بیجنګ اعلامیې او د عمل دریځ (BPFA) ۲۵مه کلیزه ده؛ یو پراخ سند چې د ښځو په اړه د ملګرو ملتونو د څلورم نړیوال کنفرانس پایله وه، دغه کنفرانس د ۱۹۹۵م کال په سپټمبر میاشت کې د چین په بیجینګ ښار کې جوړ شو. موخه یې دا وه چې د ښځو حقوقو ته پرمختګ ورکړي او د جنډر مساواتو په نظر کې نیولو سره د نړۍ په کچه په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو برخو کې د ښځو پیاوړتیا ډېره کړي او د جنډر اصطلاح د هېواد د قوانینو او پالیسو په ټولو برخو کې ځای پر ځای کړي. نو له همدې امله د ښځو او نجونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د نړیوالې پالیسۍ او د یوه عملي پروګرام لپاره طرح د منلو وړ وګرځېده تر څو د جنډر مساوات او د ښځو او نجونو بشري حقوق په ټوله نړۍ کې پلي کړي. له بل لوري د BPFA طرحه د اسلامي خاورو د ډېری حکومتونو په ګډون ۱۸۹ هېوادونو ومنله چې پر ژمنو او د دوی د اجنډاوو په پلي کولو کې به په خپلو هېوادونو کې له دوی سره مرسته کوي. په دغه اعلامیه کې ټولې موخې او اهداف د هېوادونو په منځ کې د پلي کېدو وړ وګرځېدې.

د څو لسیزو راهیسې، د "جنډر مساوات" مفهوم په BPFA او نورو نړیوالو موافقو کې شته او د نړۍ په کچه د متمدنو او پرمختللو دولتونو په ښودونکي او داسې مقیاس بدل شوی چې ښه ملتونه له ښځو سره څنګه چلند کوي. دې ته د نړیوال ارزښت په سترګه کتل کېږي چې ټول خلک باید غېږه ورته پرانیزي، پرته له دې چې خپلو کلتوري یا مذهبي باورنونو ته پام وکړي؛ په داسې حال کې چې دا مفهوم خپله په غرب کې د غربي سیکولریستي عقیدې پر اساس جوړ شوی. په حقیقت کې، ډېری خلک د جنډر مساواتو ته په ملتونو کې د ښځو د پرمختګ، ژوند د مساوي‌والي او د دوی د پیاوړي کولو د داسې وسیلې په سترګه ګوري چې باید خبره پکې ونه شي. په دې توګه ټول هغه فرهنګونه او ایډیالوژۍ ظالمې، وروسته‌پاتې او د ښځو ضد ګڼې چې د جنډر له مساواتو سره په تقابل کې دي.

د کورنۍ او ټولنې لپاره د اسلام اصول د جنډر د برخې فعالانو، سیکیولر دولتونو او د ملګرو ملتونو د اجینسیو د تورونو هدف دي. له همدې امله، په اسلامي نړۍ کې پرلپسې رژیمونو هڅه کړې چې په اسلامي خاوره کې اسلامي احکام اصلاح او لغو کړي، د دروغو په نوم د ښځو د حقوقو خوندي کولو او عصري کولو ادعا کوي. په حقیقت کې، د ډېری اسلامي دولتونو او په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو په ټولنه کې د جنډر مساواتو غربي مفهوم

په زور منل د اسلام پر وړاندې د دوی په ایډیالوژیکه مبارزه کې د استعماري پانګوالو هېوادونو له لوري په کار اچول شوي چې د يوه سياسي نظام به توګه د اسلام د راولاړېدو مخه ونيسي: د نبوت پر منهج خلافت، هغه چې د دوی واکمني ننګوي او په نړۍ کې د دوی ګټې ګواښي. په حقيقت کې له ډېر وخت راهيسې د فيمينيزم او استعمار تر منځ ټينګ يوالی شته دی.

د BPFA له جوړېدو او د جنډر د نړۍ به کچه د جنډر د مساواتو دومرو جدي نيولو پنځه ويشت کاله تېرېږي خو بيا هم د اسلامي هېوادونو په ګډون په ټوله نړۍ کې د ښځو سياسي، اقتصادي، محيطي او ټولنيزې ستونزې ورځ تر بلې ډېرېږي. د دوی د ژوند د پياوړي کولو او پرمختګ ورکولو ژمنې يې نه دي پوره کړې. د همدې لپاره، په همدې مارچ مياشت کې، د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې نړيوال کمپاين پيل کړی، چې سرليک يې دی: "بيجينګ + ۲۵: ايا د جنډر مساواتو نقاب لوېدلی دی؟" دا به ان شأالله د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې د اپرېل مياشت کې د ښځو د سمينارونو په اړه د کتاب په ليکلو سره پای ته ورسېږي. په دغه کمپاين کې هڅه کېږي چې: د جنډر مساواتو او په هغه کې د مېرمنو حقونو او د هېوادونو پرمختګ د ادعاګانو په اړه د غالبو نظريات ننګول؛ د دې څرګندول چې ايا د جنډر مساوات ربښتيا هم يو نړيوال ارښت دی؟؛ د ښځو د ژوند په ښه والي کې د جنډر د برابرۍ د پاليسيو د پاتې راتللو لاملونه څېړي؛ د ښځو د اوسنيو ستونزو سره د ربښتيني ايډيالوژيک او منظمو رېښو لاملونه تشريح کوي؛ د BPFA او د ښځو لپاره د نورو نړيوالو تړونونو اجنډا افشا کوي او کمپاين به دا واضح کړي چې څرنګه د اسلام د بشپړو اصولو، قوانينو او نظامونو ځانګړې جامع نقشه - چې د هغه د سياسي نظام، د نبوت پر منهج خلافت له لوري پلي کېږي - د ښځو دريځ لوړولو لپاره يو بديل او سم ليد وړاندې کوي؛ د دوی حقوق خوندي کوي، د دوی د ژوند حالت ښه کوي او په دولت کې ربښتينی پرمختګ تر لاسه کوي. موږ ټولو هغو کسانو ته بلنه ورکوو چې په ربښتيني ډول غواړي په ټوله نړۍ کې د مېرمنو لپاره ډېر سوکاله، عادلانه او خوندي راتلونکی رامنځته کړي، څو دا مهم کمپاين وڅاري او ملاتړ يې وکړي.

کمپاين کولای شئ دلته وڅارئ:

http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/hizbuttahrir/19097.html

د فسبوک پاڼه: https://www.facebook.com/WomenandShariah2

د کمپاين د پيل وېډيو لينک: https://youtu.be/kI0sfssW1ZQ

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې مشره**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د رجب ۱۷مه**

**۲۰۲۰م کال، د مارچ ۱۲مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۰۱۵**